# پرېکړه




Ursula Nafula

Vusi Malindi


Zahidullah Abid

2

پښتو ps



زما په کلي کې ډېرې ستونزې وې. موږ به د يوه نل څخه د اوبو راوړلو لپاره په اوږد قطار کې درېدلو.




مورږ به د هغو خوارو لپاره په تمه وو چې خلکو به خیراتولو.




مورې به د غلو له ډاره د خپلو کورونو دروازې وختي تړلې.



ډېرو ماشومانو ښوونځي پرېښودل.




پېغلو نجونو به په نورو کليو کې د خدمتګارانو په توګه کار کوه؟.



ځوانان هلکان به په کلي کې وزګار ګرځېدل، او نورو به د
پردیو په کروندو کې کار کولو.



کله به چې باد لګېده، بې کاره او اضافه کاغذونه به په ونو او ښاخونو کې بندېدل.



خلک به د هغو ماتو شوو او بې ځایه غورځول شوو ښیښو
له امله چې د نورو لخوا په ډېره بې احتیاطۍ سره پر ځمکه
اچول شوي و، ژوبلېدل او زخمي کېدل.




يوه ورځ یاد نل وچ شو او زموږ د اوبو لوښي او بيلرونه خالي شول.



زما پلار کور په کور وګرځېده او له خلکو یې وغوښتل چې د کلي اړوند غونډه کې ګډون وکړي.



خلک د یوې لویې ونې لاندې راټول شول.



زما پلار ودرېد او ويې ويل، "موږ بايد د خپلو ستونزو د حل لپاره په ګډه کار وکړو."



اته کلن جمعه ګل چې د ونې په ډډه ناست و، نارې کړې،
“زه د کلي په پاکولو کې مرسته کولی شم.”



يوې ميرمنې راغبرګ کړ: "نبخڅې کولی شي زما سره يوځای شي ترڅو خوراکي شيان وکرو."



یو بل سړی ودریدلو او ویې ویل: "سړیان به په ګډه سره یوه څاه وکیني."



موږ ټولو په یوه غږ چیغې کړې، "موږ باید خپل ژوند بدل کړو." له هغې ورځې راپدېخوا موږ د خپلو ستونزو د حل لپاره په ګډه کار کوو.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## پرېکړه

Ursula Nafula
Vusi Malindi
Zahidullah Abid

CC BY